**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۲/ رمضان المبارک /۱٤٤٥هـ، ق موافق ۳ / حمل/۱۴۰۳هـ،ش**

# هغه فتوحات او تاريخي واقعات چې د رمضان المبارک په مياشت کې واقع شوي دي

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهد الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

اللهم صلِّ وسلم وبارك على عبدك ورسولك محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

فقد قال الله سبحانه وتعالى :{شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ} البقرة:(۱۸۵)

ځينې خلک فکر کوي چې د رمضان المبارک مياشت د خوب، استراحت، سستۍ، تنبلۍ او بيکارۍ مياشت ده او په دې مياشت کې بايد ورځ په خوب تيره شي، يا په بې فائدې مجلسونو ورځ تيره کړل شي او په دې مياشت کې دکار اوکسب او د ژوند دکاميابيو څخه بايد لاس وويندل شي،چې دا فکر د رمضان المبارک دمياشتې د حکمت او فلسفې سره په ټکر کې دی؛بلکې رمضان المبارک مياشت د زيات عبادت او طاعت او بندګۍ کولو مياشت ده، د رمضان المبارک مياشت د قوت او عمل مياشت ده، مسلمان لره په کار نه دي چې داسې فکر وکړي چې په روژه کې بايد کارونه او فعاليتونه بندشي او اجتماعي حرکتونه په ټپه ودرول شي ، بلکې د رمضان المبارک مياشتې تقاضا داده چې په دې مياشت کې بايد د روژه دار ديني او دنيوي کارونه بايد زيات کړي ځکه دا د نصرت او کاميابۍ مياشت ده ، دا د جهاد او مجاهدې مياشت ده په دې مياشت کې بايد روژه دار دالله جل جلاله د رضا د حاصلولو په موخه نسبت نورو وختونو ته زياته مجاهده وکړي او مشقتونه وګالي د همدې وجې نه د اسلام ځلانده تاريخ د دی ظسشاهددی چې مسلمانانو به په دې مياشت کې جهاد او مبارزې ته ملاتړله او ددې مياشتې له برکته زيات فتوحات او نصرتونه يې په برخه شوي دي،رسول الله صلى الله عليه وسلم ،الله تعالی ته د تقرب او نزديکت حاصلولو په موخه اود مسلمانانو په سختيو اومشقتونو باندې د روزلو په هدف مشهور غزوات د رمضان المبارک په مياشت کې کړي دي.

دصحابه کرامو په زمانه کې او له هغوی څخه په را وروسته زمانو کې به مسلمانان په رمضان المبارک مياشت کې نور هم غښتلي کيدل او هوډ به يې قوي کيدلو او دکفارو سره د مقابلې لپاره به خپلې ملا ګانې وتړلې او د جنګ ميدان ته به راوتل، داځکه چې رمضان المبارک مياشت د نصرت، فتحې او کاميابۍ مياشت ده، په رمضان المبارک کې بايد روژه دار د نفس سره مبارزه وکړي او د هغو لذتونو او شهوتونو څخه يې صبر کړي چې نفس يې غواړي ، نو د نفس سره مبارزه ددې مياشتې له حکمتونو څخه ده.

ځوان نسل باید د تاریخ اهمیت او ارزښت درک کړي او هغه پیښې او واقعات چې د تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوي، د عبرت او درس اخیستنې په موخه یاد کړي او تر نورو یې ورسوي. تاریخ موږ د نورو قومونو او د خپلو اسلافو له کارنامو، ترخو تجربو او نورو حقایقو، چې ښه درس ورځنې اخیستل کیږي خبروي. غواړم تاسو ته د ځینو غزواتو، فتوحاتو او تاریخي واقعاتو څو نمونې ذکر کړم چې د رمضان المبارک په میاشت کې واقع شوي دي.

## ۱- د قرآن کریم نازلیدل:

لومړنۍ د خیر او برکت واقعه چې په رمضان المبارک کې رامنځ ته شوی ده هغه د وحیې (قرآن کریم) نازلیدل دي چې تر ټولو ستره واقعه او حادثه ده. الله جل جلاله فرمایې: (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِىَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ).البقرة:(۱۸۵)

ترجمه:- د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره هدایت دی، او د هدایت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي) ښکاره دلیلونه دي.

د رمضان المبارک میاشت وه، د بعثت لومړی کال او لومړۍ ورځ وه چې د حراء په غار کې پر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې وحیې نازله شوه او په پیغمبرۍ مبعوث شو چې دا مهال د عیسی علیه السلام له مېلاده ٦۱۰ کلونه تېر شوي وو.

په حقیقت کې دا خورا ستره پېښه ده، په دې وحیې سره الله جل جلاله خپل بندګان ونازول او محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم یې د دې عزت او کرامت لپاره غوره کړ، تر څو انسانان د الله جل جلاله له عبادت پرته د نورو څیزونو له عبادته بند کړي او نړۍ له کفر او شرکه پاکه کړي، هماغه ؤ چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دیارلس( ۱۳) کاله انسانان د الله جل جلاله وحدانیت، یووالي او ښو خویونو ته را وبلل او بیا مدینې منورې ته له اصحابو کرامو سره مهاجر شو.

## ۲- د بدر غزا:

د بدر غزا په شریعت کې د حق او باطل ترمنځ د جداوالي غزا ده چې حق پر باطل غالب شو ، دا غزا په اسلامي تاریخ کې تر ټولو لومړنۍ غزا ده چې د هجرت په دوهم کال، د رمضان المبارک په ۱۷م تاریخ د جمعې په ورځ واقع شوی ده ، د بدر په غزا کې رسول کریم صلی الله علیه وسلم خپله برخه اخیستې وه او هغه یې رهبري کوله. د بدر په غزوه کې الله تعالی نصرت او کامیابي د مسلمانانو په برخه کړه چې د مکې له مشرکانو د یاغي او سرکش مشر ، ددې امت فرعون ابوجهل په شمول د مشرکانو څخه (۷۰) اویا کسان ووژل شول او (۷۰) کسان د ۳۱۳ کسیز کمزوري مسلمان لښکر په لاس بندیان شول. د یادولو وړ ده چې د مکه والو د لښکر شمېر ۱۰۰۰ تنه و.الله تعالی ددې غزا په باره کې فرمایلي دي:{ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} [آل عمران:۱۲۳]

ترجمه:- او خامخا په رښتیا سره الله په بدر کې ستاسو مدد کړی دی، حال دا چې تاسو ډېر کمزوري (او لږ) وئ، نو له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ. السیرة النبویة لابن کثیر (۲ /٤٦٥)

## ۳- د مکې فتحه:

له مکې مکرمې څخه د الله جل جلاله نازولي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په ملتیا پټ هجرت وکړ، ځکه د مکې مشرکانو د دوی دواړو په سر سل اوښان انعام ټاکلی ؤ. د الله جل جلاله په هر څه کې حکمت نغښتی وي، له هجرته وروسته د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ څو جګړې وشوې، د کفر ستر ستر اشخاص په کې ووژل

شو او د شرک ملا ماته شوه، نو د حکیم ذات الله عزوجل له حکمته ډکه فیصله راغله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باید د ابراهیم خلیل الله او اسماعیل ذبیح الله په مبارکو لاسونو ودان کړي کور په لوري وخوځیږي او (بیت الله شریف) د شرک او بوتانو له نجاسته پاک کړي.د هجرت په اتم کال رسول الله صلی الله علیه وسلم له زرګونو اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره مخ په مکه وخوځېده او بالآخره د رمضان المبارک د جمعې په ورځ مسلمانان د مکې مکرمې مبارک ښار ته فاتحین ورننوتل او بت پرستي یې له منځه یوړله او د کعبې شریفې په شاوخوا کې درول شوي بتان یې دړې وړې کړل. مغازي الواقدي (ص: ٨٩٠)

الله تعالی د مکې فتحې ته ښکاره فتحه ویلی ده او فرمایي:{ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُبِيناً}.الفتح:(١)

ترجمه:- بېشکه مونږ تا ته فتح درکړې ده، ښکاره فتح.

## ۴-په یمن کې د اسلام خپریدل:

په رمضان المبارک کې د واقعاتو له جملې څخه یو هم په یمن کې داسلام خپریدل دي.

په یمن کې د هجرت په لسم کال کې اسلام خپور شو او نبي علیه السلام حضرت علي کرم الله وجهه د یو لښکر په مشرۍ سره یمن ته ولیږه اویو لیک یې هم ورلره ورکړ.. الفقه الإسلامي وأدلته (٣ /١١)

## ۵- د عُزَّى بت ماتول:

د رمضان المبارک په (٢٥) مه د هجرت په اتم کال رسول اکرم صلي الله علیه وسلم حضرت خالدبن ولیدرضي الله عنه د عُزَّى بت د ماتولو لپاره چې په طائف کې د النخله نومې ځای کې په یو کور کې یې موقعیت درلود او دهغه ځای خلکو یې عبادت کولو ولیږلو او خالدبن ولید رضي الله عنه د عزی بت مات او کړ او رسول الله صلی الله علیه السلام ته یې وویل:(تلك العزى ولا تعبد أبدا). البداية والنهاية (٤ /٣١٦) ددغه عزی به هیڅکله نور عبادت ونشي.

(یا داچې عزی د یو کور نوم ؤ چې د نخلې نومې ځای کې یې موقعیت درلود او دهغه ځای خلکو یې عبادت کولو او خالد بن ولید رضـــي الله عنه هغه کور ړنګ کړ یا داچې د عزی د یوې ونې نوم ؤ چې خلکو به عبادت کولو). النكت والعيون للماوردي(٥ /٣٩٨)

## ٦- د اذان پیل:

مسلمانان چې په مدینه منوره کې په ډاډ او امن سره میشت شول، د الله جل جلاله عبادت یې په ښکاره په جماعت سره ادا کولی شو؛ خو ستونزه دا وه چې د پنځه وخته لمانځه لپاره د خبرولو مشخصه طریقه نه وه. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له اصحابو کرامو سره مشوره وکړه چې ډول ډول وړاندیزونه وشول، اما ټاکلې پرېکړه ونشوه. حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرام رضي الله عنهم کورونو ته ستانه شول، حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه د شپې په خوب کې یو سړی ولیده او ده ته یې اذان او د هغه کیفیت ور وښود. کله چې سهار شو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی او څه یې چې لیدلي وو هغه یې ورته وویل.رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته وویل: بېشکه دا یو حق او رښتونی خوب دی. څه بلال رضي الله عنه سره پاڅېږه تا چې څه اوریدلي هغه بلال ته ووایه، هغه

به په زوره په هغو (کلماتو) سره اذان (اعلان) وکړي.له هماغې ورځې اذان پیل شو چې تر اوسه د نړۍ په ټولو مساجدو کې زمزمه کیږي او مسلمانان یې په اوریدو سره د لمونځونو بندوبست کوي او اذان د اسلام له ښکاره شعائرو څخه دی. (الحمدلله)

## ۷- د اندلس فتحه:

په اسلامي تاریخ کې دا خورا ستره پیښه ده، اندلس ته مسلمانان د هجرت په ۹۲م کال د رمضان په میاشت کې ورننوتل، موسی بن نصیر رحمه الله د طارق بن زیاد تر قوماندې لاندې یو لښکر د جبل طارق د ابناء له مسیره د اندلس د فتح کولو لپاره ولېږه. نوموړي یوه خوږه بلیغه وینا وکړه او مجاهدین یې جهاد ته وهڅول، چې په برکت یې اندلس په رمضان کې فتح شو. کله چې مجاهدین له بحر څخه تیر شول داسلام سپه سالار طارق بن زیاد کشتۍ وسوزولې او مجاهدینو ته یې وویل: «البحر من ورائکم والعدو أمامکم» بحر ستاسې تر شا او دښمن مو مخې ته دی، جګړه پیل شوه، مسلمانانو قرطبه، ، غرناطه اود اندلس مرکز طلیطله فتح کړل چې بالاخره مسلمانانو ټول اندلس فتح کړ چې خواوشا ۸۰۰اته سوه کاله د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې و. مرآة الجنان وعبرة اليقظان في معرفة حوادث الزمان (۱/ ۹۲)

## ۸- د اندلس د زلّاقه فتحه کیدل:

همدا راز په ۴۷۹ هجري کې د جمعې په ورځ د رمضان المبارک په ۲۵ تاریخ د زلّاقه واقعه چې په اندلس کې موقعیت لري پیښه شوه .په دې جګړه کې د مسلمانانو سر لښکر یوسف بن تاشفین ؤ او دا جګړه د نصاراوو او فرنګیانو سره وه چې مشري یې د قشتالې پاچا فونس کوله. الله تعالی په دې جګړه کې فتح د مسلمانانو په نصیب کړه او فرنګیانو شکست وخوړلو. مشهور مؤرخ ابن الاثیر لیکي:(وجعل المسلمون من رؤوس القتلى كوماً كثيرةً، فكانوا يؤذنون عليها إلى أن جيفت فأحرقوها). الكامل في التاريخ (٤/ ٣٢٤)

مسلمانانو د کفارو سرونه راټول کړل او یو ډیری یې ور څخه جوړ کړ او د هغه ډیري د پاسه به یې اذان کولو تر دې چې بدبویه شول او بیایې وسیزل.

## ۹- د عموریه فتحه کیدل:

یوه مسلمانه هاشمیه خور په عموریه ښار کې د بیزنطیانو له خوا بندي شوه، هغې په بندیخانه کې د مسلمانانو واکمن عباسي خلیفه ته غږ وکړ: (وا معتصماه!) یعنې: اې معتصمه! زما مرستې ته راشه!

د یو کس په وسیله الله جل جلاله د دښمن له بندیخانې د مظلومې مسلمانې غږ او چیغه تر خلیفه معتصمه ورسوله. نوموړي د خور د اواز ځوابولو ته ۲۲۳هجري کال باندې ځان چمتو کړ، ځینې کسانو د نه تګ ورته وویل، ولې خلیفه و نه منله او ستر لښکر یې تیار کړ، د دې مظلومې خور او نورو مسلمانو خویندو د خلاصون لپاره په سختو شرایطو کې وخوځېده.

دمسلمانانو خلیفه معتصم له خپل ستر لښکر سره عموریه ته روان شو، دښمن یې مات کړ، شراء علویه، نورې مسلمانې خویندې او مسلمانان یې د رمضان په مبارکه میاشت کې د دښمن له بندیخانې را خلاص کړل او هغه سیمه یې بېرته د اسلام په قلمرو پورې وتړله. المختصر في أخبار البشر (۱/ ۱۷۰)

## ۱۰-د عین جالوت واقعه:

عین جالوت په شام کې د بیسان او نابلس ترمنځ د هغه ښار نوم دی چې د مسلمانانو او چنګیزیانو او تتاریانو ترمنځ په کې جګړه واقع شوی وه . دا وا قعه د جمعې په ورځ د هجرت په (٦٥٨) کال د رمضان المبارک میاشت په پنځلسم تاریخ واقع شوی ده. ددې جګړې مشري دمصر سلطان قُطُز کوله. کله چې د مصر سلطان قُطُز ته احوال ورسیده چې تتاریانو د شام د نیولو پر وخت د مسلمانانو مالونه لوټ کړل او غَزّې ته ورسیدل او مصر ته د تللو اراده لري، نو سلطان قطز خپله ملا ددوی مقابلې لپاره وتړله. د جګړې پر وخت سلطان قُطُز په اوچت اواز سره وویل:«واِسلاماه» ای زما اسلامه! په دې واقعه کې مسلمانان پر مغولو او چنګیزیانو غالب شول، د تتاریانو سرلښکر ووژل شو او فتحه د مسلمانانو په برخه شوه او ددې جګړې له برکته مصر او دشام دولتونه دمسلمانانو تر حاکمیت لاندې راغلل او مسلمانان د مغولو له ظلمونو او تسلط څخه نجات وموند. البداية والنهاية (۱۳ /۲۲۰)

## ۱۱- د حطین جګړه:

صلاح الدین ایوبي رحمه الله د ۵۸۳ هجري کال د رمضان په ۲٦مه نېټه د ناصریې او طبرې ترمنځ د حطین په کلي کې پر صلیبیانو برلاسی شو، چې له هغه وروسته یې بیت المقدس د هغوی (صلیبیانو) له ناولیو لاسونو څخه ازاد کړ او بیت المقدس بیرته د مســلمانانو لاس ته ورغی. په یو بل روایت کې راځي چې د حطین جګړه په ربیع الآخر کې واقع شوی وه.

## ۱۲- د انطاکیې فتح کېدل:

د مسلمانانو په ځلانده تاریخ کې یوه بله ستره او مشهوره پېښه د انطاکیې فتحه ده، په ٦٦٦ کال د رمضان په ۴مه سلطان ظاهر بیبرس وکولی شو، چې صلیبیانو څخه انطاکیه ونیسي او په اسلامي خاورې پورې یې وتړي. المختصر في أخبار البشر (۱/ ٤٦۳)

دا څو هغه مشهورې پېښې وې چې د مسلمانانو په تاریخ کې ځلیږي. که نه له دې پرته نورې ډیرې واقعې شته چې د مسلمانانو له خوا شوې، بشري تاریخ یې پرې روښانه کړی او د تاریخ په کتابونو کې یې خوندي کړې دي.

## ۱۳-د سند فتحه کول:

محمد بن قاسم ثقفي د سند دریاب په غاړه د هندي لښکرو باندې غالب شو او هغوی ته یې شکست ورکړ او مخ په سند یې خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړ ، تر دې چې سند یې مکمل په شپږم د رمضان المبارک په (۹۲) هجري کال کې فتح کړ او د سند د فتحې څخه وروسته یې خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړ چې تر مکران پورې یې منطقې فتحه کړې.

## ۱۴ـ د حضرت علي کرم الله وجهه شهادت:

علي کرم الله وجهه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د تره (ابوطالب) زوی ؤ، چې په ماشومانو کې لومړنی مسلمان ؤ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم د فاطمې رضي الله عنها خاوند او د حسن او حسین رضي الله عنهما پلار ؤ، په

ټولو غزاګانو کې یې توره ځلولې وه، په خندق غزا کې یې ستر مشرک پهلوان عبد بن ود وواژه او په خیبر کې یې د یهودو غټ اتل مرحب مردار کړ. علي رضي الله عنه د اسلام څلورم راشد خلیفه او د خپل خلافت څخه مخکې د دریو واړو راشدو خلیفه ګانو حامي او ملاتړی ؤ.

دا ستر انسان د هجرت په ۴۰م کال د رمضان په ۱۷مې نېټې د عبدالرحمن بن ملجم په توره چې زهرو باندې یې لړلې وه، شهید شو. دا داسې لحظه وه چې ده په مسلمانانو د سهار لمونځ اداء کاوو.

## ۱۵ـ د عائشې رضي الله عنها وفات:

د رمضان مبارک له مشهورو پېښو څخه بله مشهوره واقعه د حضرت عایشې رضي الله عنها وفات دی.د مسلمانانو عزتمنه او محبوبه مور ام عبدالله عایشه رضي الله عنها د ابوبکر صدیق رضي الله عنه لور او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نازولې کور ودانه وه. هغه د ۵۸م هجري کال د رمضان په ۱۷مې نېټې له فاني نړۍ څخه د اخرت په لور وکوچېده او سیدنا ابوهریره رضي الله عنه پرې د جنازې لمونځ اداء کړ.